سردار محمد همدرد ۲۰۵/۱۱/۲۹

# پر افغان وژنه ولې چُپه خوله یو

دا خبرې خو هسې هم ډېرې تکرار سوې چې نا امني ده، جګړه ده، هغه دی او دا دی خو هغه د عربي یوې معقولې ژباړه ده «کله چې خبره ډېره تکرار سي، نو زړه کې ځای ونیسي.»

له یوې خوا ټول هېواد یوې داسې جګړې نیولی دی چې هیڅ تعریف نه لري او په هره برخه کې ټول تاوان افغانانو ته رسیږي، نه دولت کومه توره وکړه او نه د دولت مخالفو ډلو خپلې موخې ترلاسه کړې خو بس جګړه روانه ده او تر نامعلوم وخت پورې به روانه وي.

د نور هېواد ترڅنګ هلمند هغه ولایت دی چې جګړه پکې له تېرو څو کلونو راهیسې روانه ده، هیڅ معلومات نه سته چې تر کومه به روانه وي.

د هلمند شمال هغه ځای دی چې تر نور هلمند پکې ډېره جګړه سوې ده او لا هم دغه سیمه باندې داسې اور بلیږي چې هیڅوک یې د وژلو لپاره کوم پلان، طرحه او فکر نه لري.

دلته د افغان وژنې لپاره په جګړه کې داسې تکتیکونه عملي کیږي چې له هرې خوا افغان راګیر دی، له ښاره تر کلي او تر کلي تر کوره، هر ځای کې عام خلک وژل کیږي.

دلته داسې ناروا او داسې ظلم نه دی پاتې چې نه دی سوی، دلة بیز خلک ووژل سول، هره ورځ مو پر لویو لارو، کوڅو او کلیو کې خلک د ړندو ماینونو ښکار ګرځي، د خلکو کورونو څخه د جګړې مورچلونه جوړ سوي دي، داسې کورنۍ نه سته چې یو یا دوه نفره یې شهیدان سوي نه وي یا پکې معیوب سوي نه وي،حتی داسې کورنۍ مې هم ولیدې چې ټول نارینه یې د رواني جګړې قرباني سوي دي.

راځئ چې خپله جګړه لږه د نورې نړۍ له جګړې سره پرتله کړو، په نوره نړۍ کې د انسان ژوند څومره ارزښت لري، څومره یې دولتونه او خلک په فکر کې دي، په نوره نړۍ کې جګړه کې ښکېلې ډلې د جګړې لپاره خپل تکتیکونه لري، داسې لارې چارې چې عام خلکو ته پکې زیان نه رسیږي، اقتصادي ضربه نه رامنځته کیږي، عام المنفعه ځایونه نه تخریبیږي فقط جنګ کوي او د جنګ موخه یې معلومه وي.

په فرانسه کې وروستي بریدونه زموږ د افغانانو او افغانستان په جګړه کې د ښکېلو غاړو لپاره ښه مثال سو، په تېره بیا د دولت لپاره، هلته یو یا دوه بریدونه وسول، دومره لوی غبرګونونه پرې وښودل سول چې ټوله نړۍ یې ولړزوله، د نړۍ په لر او بر کې ولسمشرانو خپل د تسلیت پیغامونه وړاندې کړل، دغه بریدونه یې وغندل، خو افغانستان کې هره میاشت، هره اونۍ او هره ورځ د فرانسې په څېر او تر دغه ډېر بوږنوونکي پېښې رامنځته کیږي خو د خواخوږو


تماس با ما برای ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

افغانانو پرته بل هیڅ یوازې دا نه چې غبرګون یې پرې ونه وښود بلکې هر چا دلته په روانه جګړه خپل تجارت وکړ، چا له ځانه سیاسي کارپوه جوړ کړی او خپل کریډټ اخلي، څوک پرې څوکیو ته ورسېدل او څوک اوس هم د څوکۍ په تمه د همدې جګړې له قربانیانو ګټه اخلي.

چې د نړۍ ستر هېوادونه د فرانسي په ښېښه او بریدونو خپله خواشیني ښیي او غندي یې خو افغانستان کې د رواني جګړې او د دې جګړې پر قربانیانو پټه خوله دي، نو دا ښکه بشر پالنه او بشر دوستي ده، نړیوال په کومه پلمه وایي، موږ له افغانستان سره یو.

افغانان احسان فراموشه خلک نه دي، څومره چې افغانان بشر دوسته خلک دي، په نړۍ کې یې ساری نه سته، د فرانسي ښېښه خپله افغانانو هم وغندله، وینه د ټولو انسانانو سره ده، ټول یو ډول انسانان دي او یو ډول بشر یې دی، که د نړۍ په لر کې وي او که په بر کې، خو نوره نړۍ کې چې کومه بشري ښېښه رامنځته سي ټوله نړۍ یې پر وړاندې غبرګون ښکاره کړي، خو زموږ ګیله دا ده چې پر افغانانو هیڅا غبرګون ښکاره نه کړ، بلکې هر چا د افغانستان په جګړه کې خپلې ګټې ولټولې.

افغانستان او په تېره بیا هلمند کې اوس داسې یو حالت دی چې هیڅا پر ولس زړه نه سوځي، نه دولت او نه د دولت مخالفې ډلې، بس نا خبری کې ولس قربانیږي، د همدې جګړې د ډال په توګه تری کار اخیستل کیږي او د همدې جګړې خس وخشاک مو همدا ولس دی.

دلته داسې هدیره نه ده پاتې چې هره ورځ دې پکې مړی ښخ سوی نه وي، داسې مسجد نه سته چې هره میاشت او هره اونۍ تړې د جنازې اعلان نه وي سوی، ترکومه به داسې یو؟؟؟

که هر څومره فکر وکړو، هر څومره روانه جګړه وشنو، ویې څېړو، مطالعه یې کړو، بالاخره دې پایلې ته رسیږو، چې د جګړې قربانیان افغانان دي او دا جګړه فقط د افغان وژنې پروژه ده چې دلته عملي کیږي، خو هیڅوک یې غم نه خوري او نه داسې پلان، طرحه جوړه سوه چې دا جګړه پرې قابو سي، فقط په سر کې معاملې کیږي، مقرریانې کیږي، ډالرې تاویږي، را تاویږي او جګړه لاپسې غځیږي، خو تر کومه؟

راتلونکی تاریخ به د رواني جګړې په اړه څه لیکي، راتلونکې نسلونه به څه قضاوت کوي، د نړۍ اوسني مشران به راتلونکي نسل ته څه ډول قناعت ورکړي چې ولې دلته فقط افغان وژنه ده؟

مخکې مې هم یادونه وکړه چې افغانان بشر دوسته ملت دی، دوی پرته له ډوډۍ ژوند کولی سي، وږی نس زغملی سي، خو دوی یوازې خپل عزت او امن په فکر کې دي، دوی هر وخت امن غوښتلی دی، امن غواړي او امن به وغواړي.

که څوک د بشر پالنې او بشر دوستی دعوه کوي نو لږ تر لږه افغانستان کې روانه جګړه دې باید تعریف کړي، د جګړې موخه دې معلومه سي چې بالاخره جګړه د څه لپاره، هدف څه دی، که دا جګړه د یو معلوم هدف لپاره وي، نو دغه هدف ته د ښکېلو غاړو د رسېدو پرته له جګړې بله لاره نه سته؟

جګړه که هر ډول وي، باید له کور او کلي ووځي، افغانان دې نور خوندي سي، د رواني جګړې د غځېدو یو لوی لامل دا دی چې دولت له لویه سره ناسمې مقرریانې کوي، لومړی خو اساسي ستونزې نه سي پیدا کولی چې پیدا یې کړي بیا همدا ولس تېر باسي او د مشکلاتو دختمولو لپاره کوم ځانګړی پلان او اساسي طرحه نه لري.



تماس با ما برای ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

چي دولت کي اصلاحات را نه سي، هغه مخالفي ډلي چي ځانونه افغانان بولي، که دوی ژور فکر ونه کړي چي بالاخره د دي جنګ قربانيان څوک دي، خپله د جګړي د ختمولو لپاره لاري چاري ونه سنجوي، د نورو له اشارو لاس پر سر نه سي، نو نه به جګړه ختمه سي، نه به ستونزي هواري سي، نه به سوله راسي.

ټول باید په دي فکر کي سو، چي نور د پردیو لپاره کار ونه سي، که دلته هره ډله وي که جګړه کي ښکېله وي او که نورو برخو کي، ټول په دي پوهېږو چي جګړه د حل لاره نه ده، څلوېښت کاله جګړه وسوه کومه ګټه يي وکړه؟ د ټولو ستونزو حل، دعزت او غيرت ژوند، د خپل مېړني او ویاړلي تاریخ ساتنه او خوندیتوب او د هغه سپېڅلو مشرانو د ارمانونو پوره کېدل چي دلته يي قربانياني ورکړي دي، ټول په سوله، خواخوږي او د جګړي په ختمېدو کي دي.

**پای**


تماس با ما برای ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com